دمدني ټولنې دهمغږۍ مرکز ۱۸/۰۶/۲۰۱۲

# دمدني ټولنې دهمغږۍ مرکز اعلاميه

دبيان او رسنيو آزادي د افغانستان د خلکو او دولت يوه له هغو لاسته راړونو څخه ده، چې د هېواد اساسي قانون او د بشري حقونو نړيوالو اسنادو يې ملاتړ کړی. خو په ډېره خواشينۍ سره بايد يادونه وشي، چې تر اوسه هم د هېواد خپلواکي رسنۍ نه يوازې دا چې تر قانوني ملاتړ لاندې نه نيول کېږي، بلکې د ځينو حکومتي ادارو له خوا له ستونزو سره مخ کېږي.

د مدني ټولنې د همغږۍ مرکز په دې وروستيو کې خبر ترلاسه کړ، چې پژواک خبري آژانس، ملي باور او سرنوشت ورځپاڼې د ولسي جرګې د دربوو تنو غړيو د شکايتونو او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له يوې پرېکړې وروسته د زياتو ځېرنو لپاره لويې څارنوالۍ ته ورپېژندل شوي.

پژواک خبري آژانس څه موده مخکې ديوې حکومتي سرچينې د معلوماتو له مخې ، چې نه يې دي غوښتي نوم يې واخستل شي ، خبر خپور کړی و ، چې ايران دامريکي او افغانستان ترمنځ د ستراتيژيکو اړيکو دسند د ردولو په موخه دولسي جرګې يو شمېر غړو ته پيسې ورکړي دي.

دمدني ټولنې دهمغږۍ مرکز چې دبيان او مطبوعاتو له ازادۍ څخه ملاتړ خپله بنسټيزه دنده بولي د دې موضوع له څېړلو وروسته دې پايلې ته ورسېده ،چې پژواک خبر ي آژانس داخبر ديوې حکومتي سرچينې د معلوماتو په حواله خپور کړی دی . هغې منبع نه دي غوښتي ،چې نوم يې واخستل شي . د هېواد د ټوليزو رسنيو دقانون دشپږمې مادې د (۲) فقرې پربنسټ (ژورناليستان حق لري دخپلو معلوماتي سرچينو له څرګندولو څخه ډډه وکړي ، خو داچې واکمنې محکمې دهغو په څرګندولو حکم کړی وي.)

پردې بنسټ دا د پژواک خبري اژانس قانوني حق دی ،چې دخپلې معلوماتي سرچينې نوم يې نه دی څرګند کړی . داطلاعاتو اوفرهنګ وزارت بې له دې چې د ټولنيزو رسنيو دقانون پورتنی حکم په پام کې ونيسي لويې څارنوالۍ ته يې دپژواک خبري اژانس او نورو ورځپاڼو د ورپېژندلو پرېکړه کړې.

بل لوري ته پژواک خبري اژانس هڅه کړې له دې خبر سره يو ځای د ولسي جرګې دهغو غړو نظر هم خپور کړي ،چې سرچينې يې نومونه په ګوته کړي وو، خو پژواک يې دېرله پسې اړيکو سره سره په موندلو نه و توانېدلی ، پژواک خبري اژانس د دې خبر له خپرولو وروسته دموضوع په هکله د ولسي جرګې د غړو ځواب او غبرګون هم خپور کړی اوله دوی سره يې دمرکو له لارې د هغو د رد ځوابونه په پوره امانت دارۍ اوناپېيلتوب سره خپاره کړي دي . هغو راپورنو ته په پام سره چې پژواک په دې اړه خپاره کړي څرګندېږي ،چې نوموړي اژانس دټوليزو رسنيو دقانون ۷ مادې ته په پام سره دبې طرفۍ اصل رعايت کړی ، دانتقادکوونکي او هغو کسانو چې انتقاد پرې شوی ، حقوق يې په مساوي توګه په پام کې نيولي دي.

دمدني ټولنې دهمغږۍ مرکز چې تل يې په هېواد کې دقانون پرتطبيق او دقانون له احکامو څخه د سم درک سپارښتنه کړې ،لويې څارنوالۍ ته داطلاعاتو او فرهنګ وزارت دلېږل شوي مکتوب له لوستلو وروسته دټوليزو رسنيو قانون ،چې د۱۳۸۸ کال دچنګاښ دمياشتې په ۱۵ نېټه په ۹۸٦ شمېرې رسمي جريده کې خپورشوی يو ځل بياپه دقيق ډول وکوت ،په يادشوي قانون کې د ( کميسيون شکايات ورسيده ګي به تخلفات رسانه ای ) په نوم کوم کميسيون نه دی ذکرشوی . ددې قانون په ٤۲ ماده کې يوازې د( ټوليزو رسنيو کميسيون ) په رسميت پېژندل شوی، چې غړي يې دهمدې قانون له حکمونو سره سم ګومارل کيږي.

له دې ښکاري چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د درې کلونو له تېرېدو وروسته هم دملي شورا له لوري د ټوليزو رسنيو د تصويب شوي قانون حکمونه نه دي پلي کړي او چارې يې لاهم د پخواني لغو شوي قانون له مخې


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ

پرمخ ځی موږ سره له دې چې په دې اړه هم اندېښنه څرګندوو دقانون پرتطبیق باندې دڅارنې له ادارو غوښتنه کوو ،چې دقانون دنقض مخه ونیسي.

موږ په دې باور یو چې پژواک خبري آژانس داسې کومه تېروتنه یا عمدي عمل نه دی ترسره کړی ،چې دهېواد په قوانینو کې افترا بلل شوې وي ، سرنوشت او ملي باور ورځپاڼو هم دپژواک په حواله په دې اړه راپورونه خپاره کړي دي که دسرچینې نه ښودل د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په اند د مسئوولیت دلیل وي نو یادو شویو ورځپاڼو خو سرچینه ښودلې ده.

دمدني ټولنې دهمغږۍ مرکز د اطلاعاتو او فرهنګ له وزارت څخه غوښتنه کوی ،چې خپلو چاروته دهیواد د ټولیزو رسنیو له قانون سره سمون ورکړي او د پژواک خبری آژانس ، سرنوشت او ملي باور ورځپاڼو په اړه پر خپلې پرېکړې باندې له سره کتنه وکړي . موږ دهیواد له لویې څارنوالۍ اونورو عدلي قضایي ارګانونو غوښتنه کوو ، چې دهیواد له رسنیو قانوني ملاتړ وکړي او پرې نږدي چې دافغانستان داتباعو په اساسي حقونو او آزادیو تیری په یوه دود بدل شي.

زموږ له نظره تر هغو چې واکمنې محکمې وروستی حکم نه وي صادر کړی پژواک خبري اژانس باید مکلف او ګرم ونه بلل شي ،چې دخپل خپاره کړي خبر سرچینه په ډاګه کړي .
په درنښت

نېټه : ۲۸ -۳-۱۳۹۱

دمدني ټولنې دهمغږۍ مرکز
کابل ـ افغانستان
سکرتریت:

Telephon mobil : 0700670552
E-mail: cscc.afg@gmail.com


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ